**د ولسي جرګې د وروستيو ټاکنو د اعلان په اړه**

**دافغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمېسيون وينا**

**۱۳۸۹کال**

**دافغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون د ولسي جرګې له ټاکنو او دخلکو له رايو سره دمسوولانه چلند په کولو د ټينګار تر څنګ، د شته کړکيچ د اوږديدو او د خلکو رايو د له پامه غورځولو په اړه د ناقانونه فشارونو او مداخلو په برخه کې خپله انديښنه څرګندوي.**

**دافغانستان اساسي قانون د يو ملي تړون او د ملت د يووالي د سند په توګه دافغانستان سياسي نظام د يو ډيموکراتيک نظام چې د خلکو د رايو له مخې د حاکميت دقدرت منبع د خلکو د ارادې پر بنسټ پيژني. ډيموکراسي او د خلکو د رايو حاکميت دافغانستان د اساسي قانون له بنسټي اصولو څخه ګڼل کېږي همدارنګه د اساسي قانون د تصويب يوه بنسټي موخه دداسي نظام جوړول وو چې د خلکو پر ارادي او ډيموکراسی ولاړ وي.**

**داساسي قانون په څلورمه ماده کې** ملي حاکميت په ملت پورې اړه لري چې په مستقيم ډول خپله يايې د خپلو استازو له لارې عملي کوي. همدارنګه شپږمې مادې د افغانستان دولت په هيواد کې د ډيموکراسی پر پلې کېدو باندې مکلف کړی دی. او په ۴، ۳۳، ۳۴، ۳۵، ۳۶، ۶۱، ۸۳، ۸۴، ۱۱۰، ۱۳۸، ۱۳۹، **140، 141، 156، 157نورو مواد کې د خلکو پر ارادې ولاړ نظام او ډيموکراسي له پاره د ځانګړو ميکانيزمونو وړاندوينه شوې ده.**

**په ولسواکو نظامونو کې د رايې حق او په ټاکنو کې ګډون د يو ولسواک حکومت د پلي کېدو له پاره د مهمو وسيلو او اوزارو څخه ګڼل کېږي. او دافغانستان اساسي قانون دغه حق په ډيره ښه توګه په رسميت پيژندلی دی او ملت ته يې واك ورکړی دی چې د سياسي حاکميت پورې په ټرلو ټولو پېښنو کې پريکړې وکړي. پر دې بنسټ ټول چارواکي او عمومي پوستونه خپل مشروعيت له خلکو نه ترلاسه کوي، همدارنګه ټولو اشخاص، چارواکي او عمومي بنسټونه، يوازي د قانون په چوکاټ کې د هغو واکونو په رڼا کې عمل وکړي چې خلکو ورکړي وي او ددغو واکونو څخه ها خو واك هيچا ته او کوم بنسټ ته نه دی ورکول شوی.**

**هغه څه چې د يو ډيموکراتيك نظام د پلي کېدو له پاره مهم او برخليك ټاکونکي دي، عمومي مقامونو، او سياسي بنسټونو ته د مشروعيت ورکولو په بهير کې د خلکو د ګډون څرنګوالی دی. دغه کار په آزادو عادلانه ټاکنو کې دخلکو د عمومي ونډې اخيستو او د خلکو د رايو د پايلو د ساتنې او پلي کېدو په صورت کې عملي کېدای شي.**

**داساسي قانون د ۱۰۶مې مادې پر بنسټ، ددغه کار د پلي کېدو د ضمانت له پاره د ټاکنو دخپلواك کمېسيون وړاندوينه شوې ده چې پر ټاکنو باندې څارنې او پلي کېدو دنده هغه ته سپارل شوې ده څو په خپلواکه او بې پلوه توګه د ټاکنو په کولو سره د خلکو له رايو څخه ساتنه وکړي.**

**دافغانستان د اساسي قانون، په ۱۵۷مه ماده کې د ټاکنو د تره سره کېدو او په هيواد کې د خلکو رايو ته مراجعه کول د قانون له حکمونو سره سم د ټاکنو د خپلوا کمېسيون دنده ګڼل شوې ده.**

دافغانستان د اساسي قانون او د ټاکنو د قانون پر بنسټ دا کمېسیون مکلف دی چې د خپلې بې پلوۍ په ساتلو سره د سالمو، عادلانه ټاکنو د ترسره کولو او پر ټاکنو د څارنې او د راغلیو شکایتونو په اړه نظر وکړي  او د ټاکنو پایلې اعلان کړي.

د ټولو نیمګړتیاوو او په ټاکنو کې د خلکو د مشارکت پر وړاندې د زیاتو ننګونو سره سره په ځانګړې ډول په دوو وروستیو ټاکنو کې چې پر وړاندې یې پرتې وې، دافغانستان خلکو د زیاتو ستونزو په زغملو سره د ځاني او مالي خطرونو په منلو سره په دې ټاکنو کې برخه واخیسته او خپلې رایې واچولې. د دویمې دورې ټاکنې په نسبي بریالیتوب سره ترسره شوې او وروستۍ پایلې یې د ټاکنو د خپلواک کمېسیون له خوا په رسمي بڼه اعلان شوې.

دا مهال د ټولو قانوني بنسټونو دنده ده چې د خلکو د مشروعو رایو نه ساتنه وکړي او د لاسته راغلیو پایلو نه ملاتړ وکړي.

دا کار هغه وخت ممکن دی چې ټول شخصیتونه او نور بنسټونه د ټاکنو د خپلواک کمېسیون خپلواکۍ ته درناوی وکړي او د دغه کمېسیون له خوا د پایلو د اعلانولو واک په رسمیت وپیژني.

د ټاکنو د قانون پر بنسټ، د ټاکنیزو سرغړونو څېړنه او په اړه یې تصمیم نیول د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمېسیون انحصاري واکونو څخه ګڼل کېږي او ټاکنو د خپلواک کېمسیون له خوا د پایلو اعلانول یې وروستی پړاوو دی چې دا پایلې د پلې کېدو وړ دي. پر دې بنسټ هیڅ مقام او بنسټ د هغې د لغوه کېدو واک نه لري.

په نسبي توګه د دریو پخوانیو ټاکنو ترسره کېدل، په نسبي توګه یو ارزښتمنته تجربه وو، کېدای شي له هغې څخه د ټاکنیز فرهنګ په بنسټې کېدو او د بنسټونو ترمنځ د تعامل او څرنګوالي قانوني حدودو د روښانتیا په برخه کې کار واخیستل شي. خو په ډیرې خواشینۍ سره چې د ټاکنو د پایلو پر سره د شته کشمکشونو دوام او د قانوني بنسټونو ناقانونه مداخله، او د خلکو د رایو د برخلیك په اړه د مسوولیت د احساس نه شتون له یوې خوا د ډیموکراتیك فرهنګ د نه بنسټي کېدو او ډیموکراسۍ قواعدو ته د نه پابندۍ مانا ورکوي له بلې خوا د ټاکنو په اړه د روانو ستونزو له امله د افغانستان ملت زړه توري کېږي او د هیواد له په اړه یې اندیښنه ډیرېږي.

دافغانستان د بشري حقونو خپلواك کمېسیون، سره له دې چې د ټاکنو پر مهال د رامنځ ته شویو جرمي پېښنو په څېرلو کې د قضایه څواك صلاحتونه مني، خو له مجرمانو سره د کلك چلند د کولو ترڅنګ د د خلکو له رایو او دټاکنو له پایلو سره پرمسوولانه چلند ټینګار کوي.

دافغانستان دبشري حقونو خپلواك کمېسیون په ټاکنو د خلکو د اګاهانه ګډون څخه د هرکلي کولو په خوا کې د دولت او ټولو اړوندو بنسټونو پر مکلفیتونو  ټینګار کوي او د خلکو د سیاسي مشارکت پر حق باندې د اعتراف او د هیوادوالو د رایو د پایلو منلو په برخه کې د شته کړکیچ د اوږدیدو او ناقانونه فشارونو چې له امله یې د خلکو رایې له پامه غورځول کېږي خپله اندیښنه څرګندوي.

دافغانستان دبشري حقونو خپلواك کمېسیون

کابل1389/9/23